# مطبوعاتي اعلاميه

کابل، د ۱۳۸۹کال د دلوې ۹مه

دافغانستان د بشري حقونو خپلواك کمېسيون د دلوې په اتمه نېټه د کابل ښار د فانيست په نوم پلورنځي کې ترسر شوی ځانمرګی برید چې له امله يې يو شمېر ملکي کسان ټپيان او ووژل شول په کلکه غندي. د افغانستان د بشري حقونو د خپلواك کمېسيون له نظره پر ملکي تاسيساتو باندې برید يو ناانساني او د اسلام ضد عمل او د بشري حقونو له ټولو معيارونو څخه ښکاره سرغړونه ګڼل کېږي.
د ژوند حق په بشري حقونو کې يو مهم حق او دخدای پاك له لورې يوه ډالۍ بلل کېږي، چې هيڅ فرد او ډله نه شي کولای چې پرته له کوم قانوني مجوزه هغه له چا څخه واخلي.

اسلامي شريعت د بي ګناه انسانانو وژل حرام ګڼي او د هغې په کلکه غندنه کوي. د اساسي قانون په در ويشتمه ماده کې راغلي دي چې  ژوند د خدای بخښنه او د انسان طبعي حق دی، هيڅوك له قانوني مجوزه پرته له دې حقه بې برخې کېدای نشي. د ژنيو د نړيوال قرارداد په درېيمه ماده هم د ملکي کسانو د ملاتړ له پاره ښکاره خبره لري چې د ناپوځي او  هغه کسانو وژنه چې په جګړه کې په مستقيمه توګه برخه نه لري منع شوي ده.
دافغانستان د بشري حقونو خپلواك کمېسيون پر عامه ځايونو باندې د وسله والو مخالفانو له لورې د بريدونو په اړه خپله ژوره اندېښنه څرګندوي. کمېسيون په افغانستان کې له ښکېلو غاړو  غواړي چې د ملکي وژنو مخنيوی دی وکړي او  هيڅ کله دې ميشت ځايونه او ملکي تاسيسات تر خپلو بريدونو لاندې نه نيسي.  دافغانستان د بشري حقونو خپلواك کمېسيون دافغانستان له دولته غواړي څو ددغې پېښې عاملان له پيژندني وروسته تر عدلي تعقيب لاندې ونيسي. همدارنګه کمېسيون له دولت نه غواړي چې د خلکو دامنيت په ټينګښت کې دي لا ډيرې هڅې وکړي.

دافغانستان دبشري حقونو خپلواك کمېسيون

کابل مرکزي دفتر